بسم الله الرحمن الرحيم

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ځانګړی پوښښ

## د نوید بټ د اختطاف لس کاله پوره کېږي؛ ایا همدومره بس نه دي!؟

د ۲۰۲۱ م کال د مې میاشتې په ۱۱ مه د حزب التحریر-ولایه پاکستان د رسمي ویاند نوید بټ د اختطاف لسم کال پوره کېږي. نوموړی له نیولو څخه وروسته تر نن ورځې پورې د پټو استخباراتي ادارو په خطرناکو زندانونو کې ساتل کېږي؛ الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾**

[فاتح:۲۹]

***ژباړه:*** *رسول الله صلی علیه وسلم د الله سبحانه وتعالی پیغمبر دی او کوم کسان چې له هغه سره ملګري دي، هغوی پر کافرانو سخت او په خپلو منځونو کې خواخوږي دي.*

د امریکایي غلامو حکامو چارې او کړنې سرچپه دي؛ دوی له کفر سره دوستي، مرسته، مینه او مهرباني کوي؛ خو له خپلو مسلمانو ورونو سره د جګړې، ټوپک او بم په ژبه خبرې کوي! دا له هغه قدسي حدیث سره په ټکر کې دي، چې رسول الله صلی علیه وسلم پکې فرمایلي دي:

**«إِنَّ اللَّهَ قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ»**

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی فرمایي: «زه د هغه کس پر وړاندې د جګړې اعلان کوم، چې زما له ولي او دوست سره دښمني کوي». (بخاري)*

د ځلورو بچیو پلار ۵۲ کلن نوید بټ د امت یو ریښتینی او مخلص دعوتگر دی. نوموړی هغه ایډیولوژیکه سیاسي ځېره ده، چې د خلافت له تاسیس وروسته هره چاره رهبري کولی شي. دی د هغې نجیبې کشمیري کورنۍ غړی دی، چې په اسلام اباد کې ژوند کوي. خپلې زده کړې یې د لاهور د انجینرۍ او ټیکنالوژۍ په مشهور پوهنتون (UET) کې پیل کړې، چې وروسته بیا د خپلې وړتیا له مخې د متحده ایالاتو الیونیس پوهنتون ته واستول شو او هملته یې خپل تحصیل بشپړ کړ. نوموړي په متحده ایالاتو کې په یو خصوصي سکتور کې کار پیل کړ، چې وروسته یې  پاکستان ته د بېرته راستنېدلو پریکړه وکړه، ترڅو په اسلامي خاورو کې د نبوي منهج پر اساس د خلافت د بیا تاسیس لپاره په نړیواله مبارزه کې برخه واخلي. ده خپل ارام ژوند، سهولت او امکاناتو ته د دغه کار په بدل کې شا کړه او پر ځای یې د غلامو حکامو ظلم او تیري ته غېږ پرانستله. نوید بټ اسلام او مسلمانانو ته د سلگونو مطبوعاتي اعلامیو، کالمونو، لسگونو مطبوعاتي کنفرانسونو، سیمینارونو او  ویناوو له لارې د حاکمانو خیانت او امریکا ته د هغوی غلامي بربنډ کړل. هغه د نه ستړې کېدونکې مبارزې په ترځ کې له زرگونو بانفوذه خلکو سره  لیدنه کړې او د پاکستان گوټ گوټ ته یې سفرونه کړي، ترڅو خلکو ته د خلافت د بیا تاسیس مکلفیت او جوړښت ځرگند کړي. نوموړي د خپلې سیاسي او فکري مبارزې په لړ کې څو ځله بندي کېدل زغملي او په همدې ډگر کې په سرکښۍ او زړه‌ورتوب مشهور و.

دا د لمر په څېر روښانه ده، چې حزب التحریر د پاکستاني رژیم پر سختو ظلمونو سربېره بیا هم له خپلې مبارزې مخ نه گرځوي او دوام ورکوي. خپل نفوذ یې په عامه توگه پر مسلمانانو او په ځانگړې توگه پر وسله والو ځواکونو نور هم ډېر شوی دی. په حقیقت کې مسلمانان د مخلصینو په توگه د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په لاره کې ستونزې زغمي او همدوی د رهبرۍ کولو حق لري. **موږ د رمضان په دې مبارکه میاشت کې الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو، چې نوید بټ هم د حضرت یوسف علیه السلام په څېر د ظالمانو له زندان څخه ازاد شي او هغه ته د الهي قانون پر پلي کولو عزت ورکړل شي.**

**﴿وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ﴾**

*[شعرأ:۲۲۷]*

***ژباړه:*** *ظالمانو ته به ډېر ژر معلومه شي، چې هغوی له څه ډول برخلیک سره مخ کېږي.*

**د رمضان ۱۸ مه ۱۴۴۲هـ.ق کال**

**۲۰۲۱ م کال د اپریل ۳۰ مه**